AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولی ناروغ ۲۰۲۱/۰۸/۰۱

# وروستی جنګ

نر یي مه بوله په ویره چي جنګیږي
که جنګیږي او د بل شاته پټیږي

چې په خلکو کي سنګر نیسي نر ندی
ناریـنه د جنګ میدان ته هوسیږي

نارینه له ښځو نه جوړوي سپر
نارینه د نارینه په شان دریږي

ای نا مردو له دی خلکو نه لاس واخلئ!!!
ماشومان له دز و غپ څخه بیریږي

نارینه د خپل همت سنګر کی پروت وي
نه د بل په کور چي ننوځي پټیږي

غازیان ځي له سپین کفن سره سنګر ته
نارینه له شهادته نه بیریږي

نارینه له خپل سنګر سره عادت وي
که راوغورځي حمله ته به خښیږي

نارینه روستی مرمی ساتي په زړه کي
نارینه په اسارت باندي شرمیږي

که په تیښته کي را وغورځي نر ندی
نر هغه دی چي له مخي نه لګیږي

په سر واړوي وروستی هیلي د سولي
وروستي جنګ کي نر او ښځي مالومیږي

ولی ناروغ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ